# رسول ﷺ وفرمايل: دخپل ورور ملاتړ وکړه، هغه که ظالم وي اويا مظلوم

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول ﷺ وفرمايل: رسول ﷺ وفرمايل: دخپل ورور ملاتړ وکړه، هغه که ظالم وي اويا مظلوم»، يو سړي وويل:«اې د الله رسوله! که مظلوم وي نو مرسته به يې وکړم، خو که ظالم وي نو څنګه يې ملاتړ وکړم؟ «رسول ﷺ وفرمايل: «هغه د ظلم کولو څخه منع کوئ؛ نو «همدا يې ملاتړ دی.
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول ﷺ مسلمان ته امر کړی چې د خپل مسلمان ورور ملاتړ وکړي، هغه که ظالم وي او يا مظلوم، نو يو سړي وويل: اې د الله رسوله! کله چې مظلوم وي نو ملاتړ به يې وکړم تر څو پرې د ظلم مخنيوی وکړم، نو دا چې ظالم وي څنګه يې مرسته وکړم؟ هغه وفرمايل: منع کوې به يې، لاسنيوی به يې کوې چې ظلم ونه کړي؛ نو همدا يې په خپل هغه نفس او شيطان برلاسی دی چې په بدۍ ورته امر کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4236